# د منځنۍ برخې د ادرار د نمونې (MSU) د راټولولو ځرنګوالی

**د هغو لوړو عمر لرونکو ماشومانو، ځوانانو او لویانو لپاره چې نارینه ادراري سیستم لري.**

## عمومي سپارښتنې

**د** ادرار (متیازو) د نمونې له راټولولو مخکې **او** وروسته تل خپل لاسونه په صابون او اوبو ښه ومینځئ.


**سټریل لوښی** تر هغه مه پرانیزئ څو چې د نمونې راټولولو ته چمتو نه

**د لوښي دننۍ برخې ته له لاس وهلو ډډه وکړئ**، او مه پرېږدئ چې ستاسو تناسلي غړي د لوښي له هېڅ برخې سره تماس پیدا کړي.

**که چیرې** ستاسو روغتیایي مسلکي کس درته ویلي وي، **د نمونې له راټولولو مخکې پر لوښي لیبل ولګوئ.**


## د منځنۍ برخې د ادرار د نمونې (MSU) د راټولولو لپاره

**1**



د لوښي سر
لرې کړئ او پر یوه پاکه سطحه یې داسې کېږدئ چې دننۍ برخه یې پورته وي.

**2**




که چیرې سنت پوستکی لرئ،
په نرمۍ سره یې شاته کش کړئ.

**3**




لومړی ادرار کول
تشناب کې پیل کړئ (د ادرار لومړۍ برخه مه راټولوئ). د ادرار جریان له بندولو پرته، لوښی د ادرار تر جریان لاندې ونیسئ او لږ ادرار پکې راټول کړئ.

**4**



لوښی
تر هغه ځایه ډک کړئ چې ادرار ترې توی نه شي، یا که د ډکولو نښه ولري، تر هماغې کرښې پورې یې ډک کړئ. پاتې ادرار په تشناب کې بشپړ کړئ.

**5**



د لوښي سر
بېرته وتړئ او په کلکه یې ټینګ کړئ.
که چیرې د لوښي بهرنۍ برخه که چیرې لمده وي، هغه ووینځئ او وچه یې کړئ.

**6**



د ادرار نمونه
ژر تر ژره خپل روغتیایي خدمت وړاندې کوونکي ته یوسئ، او هغه فورمې یا لیبلونه هم ورسره یوسئ چې له تاسو څخه د ډکولو غوښتنه شوې وي. د 2 پاڼې لارښوونې تعقیب کړئ.

## لنډ معلومات

**د منځنۍ برخې د ادرار نمونه (MSU) څه ده؟**

د منځنۍ برخې د ادرار نمونه (MSU) هغه ادرار دی چې د ادرار کولو د جریان له منځنۍ برخې څخه راټولېږي.

**ولې باید د منځنۍ برخې د ادرار نمونه راټوله کړم؟**

د ادرار د جریان په پیل کې خارجېدونکی ادرار ښايي د پوستکي میکروبونه له ځان سره ولېږدوي، چې دا د ازموينې پر پايلو اغېز کولی شي. د ادرار د جریان له منځنۍ برخې څخه د نمونې راټولول د دې مخه نيسي او د ازموينې لا دقيقې او باوري پايلې برابروي.

**ايا د نمونې له راټولولو مخکې باید د تناسلي غړو ساحه ووینځم؟**

تر هغه چې ستاسو روغتيايي مسلکي کس بله لارښوونه نه وي کړې، د ځانګړو لمدو دستمالونو يا پاکوونکو موادو کارولو ته اړتيا نشته. يوازې ډاډ ترلاسه کړئ چې دغه سيمه پاکه او وچه وي.

**ايا کولی شم له کور څخه بوتل يا لوښی وکاروم؟**

تاسو باید د نمونې د راټولولو لپاره هماغه لوښی وکاروئ چې ستاسو روغتيايي مسلکي کس درکړی وي.

**ايا مهمه ده چې نمونه په کوم وخت کې راټوله کړم؟**

هڅه وکړئ چې نمونه د خپلې ټاکل شوې لیدنې (اپواینټمنټ) وخت ته تر ټولو نږدې راټوله کړئ، ترڅو د غوره کیفیت لرونکې نمونه که امکان ولري، نمونه له انټي بیوټیک درملو له ترلاسه شي. اخيستلو مخکې راټوله کړئ.

**ايا داسې حالتونه شته چې د نمونې د راټولولو دا طریقه بدله شي؟**

ځينې وختونه ستاسو روغتيايي خدمت وړاندې کوونکی ښايي د ادرار د نمونې د راټولولو لپاره بله طریقه سپارښتنه وکړي. که داسې وي، هغه لارښوونې تعقيب کړئ چې تاسو ته يې درکوي.

## د ادرار د نمونې د سپارلو لپاره لارښوونې

**نمونه ژر وسپارئ.**
نمونه ژر تر ژره خپل روغتيايي خدمت وړاندې کوونکي ته یوسئ، غوره ده چې دا کار په 2 ساعتونو کې ترسره شي.

**د نمونې د سپارلو وختونه** وپوښتئ.
وپوښتئ چې د نمونو د سپارلو وروستی وخت څه دی، ترڅو ستاسو نمونه په هماغه ورځ لابراتوار ته ورسېږي.

**نمونه يخه وساتئ**
که نمونه ژر نه شئ رسولای، هغه په يوه پلاستيکي کڅوړه کې واچوئ او تر سپارلو پورې یې په يخچال کې وساتئ.

**د ځانګړو سټرېل لوښو کارول**
ځينې لوښي د ساتونکي پوډر او د ډکولو لپاره له ټاکل شوې کرښې سره وي. هڅه وکړئ چې ادرار تر ټاکل شوې کرښې پورې واچوئ، خو که دا ممکن نه وي، نو څومره چې کولی شئ هماغومره ادرار راټول کړئ.

**د نورو معلوماتو لپاره** دلته سکین وکړئ ).

© Crown copyright 2026. نسخه 1. خپور شوی: جولای 2026. د بیاکتنې نېټه: جولای 2029. دا سند د روغتيايي مسلکي کسانو، ناروغانو او مسلکي طبي ادارو په همکارۍ چمتو شوی دی. TARGET د UK Health Security Agency له خوا اداره کېږي.